# آیا د ژبي واګي د چا په لاس کي دي؟

## د عوامو که د خواصو؟

په ژبنیو مباحثو کي دا خبره ډېره د څېړني وړ ده او ډېر خله هم د پلټني او لټوني په سلسله کي د ژبو د کارکوونکو مخې ته راځي. زما ښه په یاد دي چي څو کاله دمخه د ژبي د پوهانو په ټولنه کي دا بحث په ډېره ګرمۍ او دلچسپۍ سره کېده، هر چا خپله عقیده ښکاره کوله. ځیني طرفدار وو چي د ژبي د سیر واګي د خواصو او عالمانو او پوهانو په لاس کي دي، یو څو تنو هم ویل چي یه ! دا کار د عوامو او وګړیو دئ.

پرون ما یوه خارجي مجله کتله، بیا دا بحث مخي ته راغی، یوه مشهور لیکوال پر دې خبره بحث کړئ، دی وایي : چي د ژبي ویونکي درې ډلي دي : لومړۍ ډله خواص او علماء او پوهان دي چي ژبه د خپل فکر تابع کوي، دوهمه ډله اوسطه طبقه ده، دریمه ډله عوام دي چي فکر یې د ژبي تابع دئ، دا لیکوال عقیده لري چي د ژبي واګي تل د خواصو په لاس کي وي، په فارسي کي د حافظ او سعدي نوم هیڅوک نه سي هېرولای، او د دې ژبي پیشوایان دوي دي. عوام خو د ژبي په سیر کي کوم اهمیت نه لري او دوهمه طبقه هم لکه ناقص طبیبان داسي دي، فقط هغه لومړۍ او خاصه ډله ده چي د ژبي سرنوشت معین کوي، ښایي چي هر څوک په دې

خصوص کې مخصوصه عقيده ولري، او له ځانه سره د خپلې عقيدې لپاره دلايل او براهين هم ولري. خو زه دلته لومړی د دې خبرې په شا و خوا کې څه تبصره ليکم، او بيا نو خپله عقيده ښکاره کوم.

په لوی سر کې خو ژبه لکه د دنيا نور شيان او د انساني ژوندانه نور لوازم يو اجتماعي مخلوق دي چې د بشري ژوندانه ټول اجتماعي قوانين پر تطبيق کيږي، نو چې سړی په لومړني نظر وګوري، اجتماع پر ژبې حکمراني کوي او ځکه چې د اجتماع افراد اکثر وګړي او عوام وي، نو ګويا پر ژبه حکمرانه او غالبه ډله هم عوام دي.

مګر پسله له لږ څه غوره دا خبره هم ښکاره کيږي چې د اجتماعي ژوندون ډېر مواد او لوازم داسې هم دي چې پر هغو باندې يوه خاصه ډله حکومت کوي او تر خپل تاثير لاندې يې راولي او ډېر شيان په خواصو پورې مخصوص دي او عوام نه سي کولای چې پر هغو باندې خپله اغيزه په ښکاره او څرګند ډول خپره کړي.

علم او ساينس او لهيات او هغه معلومات چې د مادې له حده څخه لوړ دي، عموماً د خواصو د افکارو نتيجې دي، او دا ټول شيان مستقيماً د بشر په خاصه طبقه اړه لري، او د بشر فکري نوابغ دي چې دغه ښېګڼي يې ډېرې کړي او هم يې تر موږه پوري رارسولي دي. بالعکس ډېر دودونه او اجتماعي مراسم او د بشري حيات لوازم او عوايد دي چې مخصوصاً د عوامو د ډلې تر اثر لاندې پيدا کيږي او پرورښت کوي او د مثبتو مباديو پر ځای دريږي، او ډېر عمر ژوندون لري.

هغه وخت چې موږ د بشر د ژبو تاريخ ګورو او په تحولاتو کې دقيق سو، نو دا هم د جامعې مال دئ او يوه جامعه په پېړيو پېړيو اوږدو زمانو کې ژبې پيدا کوي او له يوه حاله يې بل حال ته اړوي، د خپلو احتياجاتو سره توسيع ورکوي، نوي الفاظ او مواد پکښې



ګډوي. مګر سره د دغه هم سړی داسې نه سي ويلای چې د جامعې خاصه طبقه او علماء او پوهان په دې کار کې هيڅ برخه نه لري، او د ژبو په حياتي چارو کې د دوی لاس کوم کار نه سي کولای.

د هرې ژبې د ژوندانه د تاريخ پاڼې چې وکتلې سي ډېرې يې لکه په عوامو چې اړه لري يوه غوره برخه يې په خواصو پورې هم مربوطه ده، عوام خو ژبه جوړوي، پراخوي يې، هرې خواته يې سره کشوي، مګر خواص هم په ژبه کې مهم مواد ګډوي، يو شاعر کولای سي چې د عوامو د ژبنيو موادو څخه بېل نور نوي مواد او الفاظ په ژبه کې موجود کړي او داسې يې پکښې حل او مزج کړي چې عوام يې هم ورسره ومني، او د دوی ادبي سلطې ته غاړه کښېږدي.

نو اوس موږ له دغو ابحاثو څخه داسې نتيجه اخيستلای سو چې ژبه يوازې د عوامو په لاس کې هم نه ده بلکې خواص هم غوره برخه پکښې لري او هر وخت د ژبو په سرنوشت لوبې کوي.

په حقيقت کې دا خبره د ژبو په ژوندانه کې ډېره مهمه ده چې بايد ژبه فقط د يوې طبقې تر اثر لاندې نه وي، بلکې په داسې ډول وروزله سي چې له دواړو ډلو څخه استفاده وکولای سي.

زه غواړم چې په دې ليک کې خپلو ښاغليو لوستونکيو ته دا حقيقت لڅ کړم چې پر ژبې باندې د دغو دواړو ډلو حکمراني په مساوي ډول ده او که د يوې ژبې واګې فقط يوې ډلې ته ورو‌سپارل سي نو به هغه ژبه ډېر خپل مزايا او ښېګڼي بايلي.

په لوی سر کې که غور وکړو، خواص هم د ټولني او وګړيو اجزاء او غړي دي خواص چې ژبه زده کوي په عوامو او وګړيو کې وي، او د دوی د ژبې لومړنی تعليم هم د وګړيو چاپېر دئ، وروسته چې يو انسان د خواصو سره ناسته ولاړه وکړي، او د خواصو په محيط ګډ سي او د دوی افکار او عقايد زده کړي د دوی په ژبه ژبور سي، بيا نو د دوی په رنګ رنګيږي، او د ژبې هغه د افادې طرز زده کوي کوم

چي د خواصو په محيط پوري اړه لري، نو بايد چي د هري ژبي لپاره د روزني دوه طبيعي محيطونه وټاکو :

لومړی د وګړيو چاپېر، چي هر څوک ژبه هلته زده کوي، او لهام ځني اخلي ټول خواص يعنې پوهان او ادباء او علماء لومړی له دغه محيطه استفاده کوي يوه کورنۍ چي هر څوني خواص هم وي، د کوچني د محيط خبري او ژبه يې د عوامو خواته ورته وي، نو ګويا د ژبي اصلي او حقيقي پرورشګاه هم د وګړيو غېږ ده، او دا محيط ژبي ته د مور په دود تربيه ورکوي.

دوهم محيط د خواصو او پوهانو چاپېر دئ چي ژبه له لومړنۍ مرحلې څخه ورته راځي، په دې محيط کي ژبه خپل طبيعي جمال لا پسي ښايسته کوي او رنګا رنګ زيورونه او ګېڼې په پوري کيږي، ښايست يې داسي رنګ او رونق مومي چي له ډيري ښکلا نه پېژاندله کيږي.

نو په دې ډول : عوام د ژبي اصلي پالونکي دي مګر خواص يې ښايسته کوونکي او په ښکلا او زيبايي ښکلوونکي دي چي د ژبي لپاره هم دواړي ډلي لازمئ دي، يو حسن او مخ که هر څوني د ښه کړه وړه خاوند وي، خو چي د آرايش لاس نه وي ورسره ملګری خيرن او ناولي پاته وي ښه نه ايسي، او کتونکي ته يې کومه دلچسپي هم نه وي، کوم وخت چي هغه طبيعي حسن په ګېڼه او مناسبه غازه ښکلی کړ سي طراوت او ښکلا ئې غبرګون او د کتونکيو سترګي نه په مرېږي.

په دې ډول د ژبي طبيعي حسن او ښکلا د ډېرولو او ښه دلچسپ کولو لپاره د خواصو د لاس مشاطګي لازمه ده، او همدوي دي چي د دې ښکلي ناوي په غاړه کي د ښکلا ښې ګېڼې وراچوي، او پخپله استادي او مهارت يې لا ښه پسي ښکلي کوي. ډېر څله داسي هم پېښيږي چي د يوه طبيعي حسن په ښايسته کولو کي له سليقې څخه کار وانخيستل سي او ناولي ګېڼې بې رونقه او بې يوه خاصي سليقې



پر مخ او تندي باندي کتار کړی سي دلته د ذوق خاوندان دا فيصله کولای سي چي تر دغي ګېڼې بې ګېڼې والی ښه دئ او دا ناوړه تحليه بې کاره ده د ليدونکي تره ځني کيږي او تر دغي ګېڼې هغه طبيعي تش جمال ښه دئ، د ژبي د آرايش په مرحله کي هم کټ مټ دغه خبره واقع کيږي د خواصو او پوهانو او اديبانو د نقش و نګار او ګېڼې ايښوولو ځای د ژبي طبيعي او عامي څېره ده که دوی د ذوق خاوندان وي او په مناسب او وړ ډول يې مخ په ادبي ګېڼو ښکلی کړي خو ډېر ښه ! اما که دا ګېڼه په بې سليقګۍ او بې ذوقۍ پر مخ کښېښووله سي يا دوني ډيري ګېڼې پر مخ ورکوته کړه سي چي بالکل يې مخ په پټ وي، او طبيعي جمال يې ورک سي، دلته نو سړی ويلای سي چي دا ښه کار نه دئ او مثلاً د ميرزا مهدی درهٔ نادره به ځيني جوړه سي يا به د پارسي ژبي د تاريخ وصاف انشاء پردازي سي چي ډېره مکروهه ده بالعکس که د حافظ غوندي شعر يا د سعدي غوندي روانه او سليسه انشاء وي هر څوک يې خوښوي ځکه چي دوی ژبي له عامي موقف څخه ډېره نه ليري کوي، او ډيري مناسبي ګېڼې يې پر مخ وراينبي او طبيعي حسن يې ورغبرګ کړئ دئ. په پښتو کي هم بايد موږ دغسي وکړو ژبه بايد چي د عمومي محاورې او اداء له پلوه کرغېړنه نه کړو البته ليکوال او نويسندګان يې د مناسبي ګېڼې ايښودلو حق لري، يو سړی که څه هم ډېر زبردست ليکوال او عالم وي داسي نه سي کولای چي له ځانه ژبه جوړه کړي هو ښايسته کوي به يې.

د ژبي په ښايسته کولو کي بايد هر وخت دا خبره د ليکوالو په فکر کي وي چي د ژبي طبيعي جمال ورک نسي او هم بار د تصرفات په ژبي کي ونکړي ډېر څله داسي ليدل کيږي چي يو ليکوال د خپل فکر د قالب جوړولو لپاره په ژبه کي داسي مواد زياتوي چي هغه مناسب نه وي.زما په خيال خو بهترين ليکوال هغه

دئ چې ژبه په نامناسب ډول ښايسته نکړي او تر خپل فکر يې قربانه نه کړي او په ناوړه توګه په ژبه کې تصرف ناروا وبولي ځکه چې دا حق ډېرو لويو پوهانو او اديبانو ته هم نه ورکول کيږي چې دوی په ژبه کې ناوړه شيان را داخل کړي ښه مې په ياد دي چې يو وخت د مرحوم علامه اقبال يو کتاب (اسرار و رموز) خپور سوئ ؤ هلته يو بيت ؤ :

زآسمان آبگون يم می چكد
من زجو باريكتر می سازمش

يوه بل عالم اعتراض کړی ؤ چې له ولي سره باريک د پارسي اصطلاح نه ده علامه اقبال د صائب دا بيت د سند په ډول ورته راوړی و:

نازکتر است از رگ جان گفتگوی من
باريک شد محيط چو آمد بجوی من

رښتيا هم دا ده، چې په لومړی سر کې (باريک) د (جوی) سره کوم مناسبت نلري، مګر وروسته چې سړی دقيق سي د پارسي په عامه محاوره کې باريک د اوبو صفت راغلی دئ لکه : (باريکاب) چې (باريک آب) ؤ مقصد مې دا دئ چې لويو فضلاوو ته چې د سند خاوندان هم وي له عمومي محاورې ځکه تجاوز روا نه دئ او له خانه په ژبه کې يو شی داخلول مناسب نه ګڼي.

نو داسي ښکاري چې د ژبې واګې يوازی خواصو ته نه سپارل کيږي بلکې عوام او د دوی محاوره هم لوی حق پکښې لري او نه ښايي چې ژبه فقط د يوې ډلې په اختيار کې وي ځکه چې يوازی عوام هم نه سي کولای چې د ژبې چاري تر سره ورسوي.

نو نتيجه داسي ده : چې بايد عوام او خواص دواړه د ژبې په چارو کې لاس ولري او هر کله چې خواص څه کوي د عوامو خوا هيڅکله هېره نه کړي. (۱)

(۱) کابل مجله، ۱۳۲۴ ل کال، ۴ مه ګڼه، ص ۱ _ ۳ مخونه.